

# د غويي اوومې او اتمې جنايتكارانو له محاكمې پرته، زمونږ خلک سوله او ښيرازي نشي ليدلی!

که څه هم د غويي اتمې او اوومې له تورو ورځو کلونه تيريږي، خو لا تراوسه هم زمونږ کړيدلي خلک ددغو دوه بدمرغه ورځو له ناورين څخه خلاصون نلري. دوه کرغيړنې ورځې چې زمونږ له ولس څخه يې په زرګونو قربانيانې واخيستلې؛ په ميليونونو يې بې‌کوره کړل؛ زرګونو په آزادي‌مين او باوجدانه انسانان يې له منځه يوړل؛ له ۷ کلن ماشوم څخه تر ۷۰ کلنو ميندو جنسي‌تيری وشو؛ زمونږ ټولنيز او اقتصادی بنسټونه له منځه ولاړل؛ د ولس شتمنۍ لوټ او ويجاړې شوې؛ او په سلګونو نورې بې‌رحمۍ او کړاونه. ټول ولس ته دا په ډاګه شوه چې د هيواد ننني ناورين او بدمرغيو لاملان د خلق - پرچم مشران او د تنظيمي ډلو واکداران دي. ددوی د خيانت پايله وه چې افغانستان د پاکستان او ايران زورواکو دولتونو او د امريکا تر مشرۍ لاندې د ځلوېښتو هيوادونو د لاسوهنو په ډګر بدل شو.

له ټولو نه د وير ځای خو دادی چې لا تراوسه هم ددغو دوه بدمرغو ورځو لاملان د امريکا او د هغې ملاتړو تر بيرغ لاندی زمونږ د خلکو په برخليک باندی واکمن دي او د لوټ او کرغيړن‌توب په بل پړاو کې بوخت دي، خو په بې‌ساری بيشرمۍ سره ځان ته «اتلان» وای. په ځانګړې توګه د اتم د غويي جنايتکاران چې د خپلو پاکستاني او عربی او ايراني واکدارانو په امر يې کابل او ټول افغانستان په وژن‌ځای او کنډواله بدل کړی وو، تر دې حده بې‌شرمه دی چې ددغه ځناورتوب يوميليونم مسووليت هم په غاړه نه اخلی عدالت څخه د ځان خلاصيدو په موخه، د تيرو ځلورلسيزو ويجاړی او ځناورتوب پړه د «بهرنيو لاسوهنو» په اوږه اچوي. خو دا يو څرګند حقيقت دی چې په هره پديده کې، دننني لاملونه له بهرنيو څخه اصلي رول لري. که دغه ناخوالی په افغانستان کې نه‌وای تر سره شوی، نو په ډاډ سره ويلی شو چې نن به زمونږ خلک د طالب او داعش، چاودنو او ځان‌وژنو او د امريکا او ناتو الوتکو بې‌ځنډه بريدونو او نورو بلاګانو سره لاس او ګريوان نه وای.

د افغانستان دولت چې د نيواکګرو هيوادونو له فاسدو وطن‌پلورونکو چوپړانو څخه جوړ شوی، پرلپسې د «سولې لړی» تر ښايسته نوم لاندې طالبی او ګلبديني انسان خوړونکو ته يې باج ورکړ او انسان وژونکی يې له زندانونو خوشی کړ. خو سوله له عدالت پرته مانا نلري، هغه عدالت چې په تيره يوه‌نيمه لسيزه کی په ربړونکی توګه د ظالمانو او لوټمارانو د خوښۍ قرباني شوی. د کابل او ولايتونو خونړي بريدونه، ددغه ملی‌ضد سياستونو پايله ده چې زمونږ بې‌وزله خلک د هغې قربانيان دي. په واقعيت کې د ع او غ ملا– مافيايي دولت د کرزي خوسا دولت په څير، د هغو خاينانه سياستونو پلی کونکی دی چې د جان‌کيری او سپينې ماڼۍ له لوری ورته ويل کيږي. د شمال او په ځانګړې توګه د قندوز ناامني، په تاوتريخوالي کې د هيواد ډوبيدل، قومي او مذهبی او سمتي تضادونه، بيوزلي، بيکاري، ناورين او سخت‌دريځتوب ددغه غولونک‌و سياستونو منطقي پايله ده. امريکا هڅه کوی چې افغانستان د نړيوالې ترهګرۍ او مخدره‌توکو مافيا په مرکز بدلولو سره، روسې او چين ته بې‌ثباتي وليږدوي او دغه رقيبان په څمکه راوغورځوي. د افغانستان خلک د امريکا او د هغې د افغاني لاسپوڅو دغو نيواکګرو سياستونو ګرانه بيه ورکوي.

کړيدلو هيوادوالو!

تر هغې چې اتم او اووم غويي ناولي داغونه د خپل هيواد له لمنې پاک او له ناورينونو سره يې حساب يو طرفه نکړو، زمونږ افغانستان د هوساينې او نيک‌مرغۍ مخ نشي ليدلی. د جنايتکارانو او د پردو چوپړانو د بخښنې فرهنګ ددی لامل شوی چې هيواد مو ورځ تر بلې د ظلم او ويرې په څرخاو کې ډوب شي. راځئ چې يو بل ته لاس په لاس کې ورکړو هيواد له دغو تيارو او ځناورتوب څخه وژغورو. د کړيدلو خلکو له يووالی او يوهې او مبارزې پرته، له دغه حالت څخه خلاصون بله لاره نشته.

د «**افغانستان د همبستګۍ ګوند**» د افغانستان ټولو آزادي‌غوښتونکو او شرافتمنده ګوندونو او عناصرو ته د هر ډول بنسټ‌پالۍ، ارتجاع او بهرنۍ لاسوهنو په وړاندی د مبارزې بلنه ورکوي. سولې، عدالت او دموکراسۍ ته د رسيدو يواځنی لاره يووالی او مبارزه ده. په نړۍ کې يواځې هغه ولسونه په امن او سرلوړي اوسيدلي دی چې خلکو يې د يو پرمخ‌تللی ګوند تر بيرغ لاندی د بې‌عدالتۍ پر وړاندې جګړه کړې وي.

## د افغانستان د همبستګۍ ګوند

د ۱۳۹۵ کال د غويي ۷مه – ۲۰۱۶ کال د اپريل ۲۶مه

+93 700 23 15 90 | info@hambastagi.org | www.hambastagi.org | facebook.com/hambastagi